مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۵۰** (از ۱۹ الی ۲٦ جدی ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

**مذاکرات چهارجانبه و آیندهٔ گفت‌وگوهای صلح**

- پیشینهٔ مذاکرات چهارجانبه ........ ۴
- آغاز مذاکرات چهارجانبه ........ ۵
- نتیجهٔ نخستین نشست چهارجانبه ........ ٦
- واکنش طالبان ........ ۷
- آیندهٔ مذاکرات صلح ........ ۸
- نتیجه‌گیری ........ ۹

**د ایران-سعودي سره جګړه؛ پر افغانستان او سیمه يې اغېزې**

- په منځني ختيځ کې سړه جګړه ........ ۱۱
- منځنی ختيځ؛ د بحرانونو ټاټوبی ........ ۱۱
- د سعودي-ایران اړیکې ولې کړکېچنې شوې؟ ........ ۱۲
- د سعودي-ایران کړکیچ کې د کابل دريځ ........ ۱۳
- پر سيمه او افغانستان د سعودي-ایران د کړکيچ اغېزې ........ ۱۴

## مقدمه

د دوشنبې په ورځ د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا استازي په اسلاماباد کې سره جرگه شوي وو، ترڅو د افغان سولې بهیر د بیا پیل لپاره لارې چارې ولټوي. د دې لړۍ دویمه غونډه به د جنورۍ په ۱۸مه په کابل کې جوړه شي. که څه هم د دغې لړۍ د پیل اصلي موخه له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرې پیلول دي؛ خو لومړۍ او دویمې غونډې ته طالبان نه دي غوښتل شوي.

تر دې مخکې د پاکستان په منځگړیتوب د چین په ارومچي ښار کې او بیا اسلامآباد ته نژدې په مري سیمه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د خبرو اترو دوې غونډې جوړې شوې دي؛ خو د دغو څلوراړخیزو غونډو جوت توپیر بیا له هغو غونډو سره دا دی، چې په دې کې چین او امریکا هم د دوو ځواکمنو لورو په توگه گډون لري. همدا لامل دی چې افغان حکومت دا ځل دغو خبرو اترو ته هیلهمن دی. که څه هم د څلوراړخیزو خبرو اترو لومړۍ ناسته له کومې ځرگندې پایلې پرته پای ته ورسېده؛ خو ایا راتلونکې ناستې په وکړای شي، چې طالبان د سولې د خبرو مېز ته حاضر کړي؟ په دې اړه د طالبانو غبرگون څه دی؟ او د دې لړۍ راتلونکی به څه وي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې په منځنی ختیځ کې د ایران-سعودي د کړکېچ او په اړه یې د کابل د دریځ په اړه لولئ. وروسته له هغه چې سعودي عربستان، شیعه عالم شېخ نمري اعدام کړ او په ایران کې د سعودي سفارت د غوسهشویو لاریونوالو لهخوا وسوځول شو، د دواړو هېوادونو اړیکې د هر بل وخت په پرتله زیاتې خرابې شوې او سیمه په دوو بلاکونو ووېشل شوه. د دغو دواړو هېوادونو د اړیکو له خرابېدو وروسته د افغانستان اجرائیه رئیس هم ایران ته سفر وکړ او هلته یې له مهمو چارواکو او شخصیتونو سره لیده کاته وکړل. پوښتنه دا ده، چې د سعودي-ایران کړکېچ به پر سیمه او افغانستان څه اغېزې وښندي او په اړه یې د کابل دریځ څه ډول دی؟

د اوونۍ تحلیل په دې گڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل بورډ، شنني او څېړنې لولئ.

# مذاکرات چهارجانبه و آیندۀ گفت‌وگوهای صلح



نشست چهارجانبۀ گفت‌وگو در مورد پروسۀ صلح افغانستان، روز دوشنبه (۱۱ جنوری ۲۰۱٦) در شهر اسلام‌آباد برگزار شد. در این نشست، نماینده‌گان چهار کشور افغانستان، پاکستان، ایالات متحدۀ امریکا و چین برای گفتگو در مورد "نقشۀ راه" رسیدن به صلح در افغانستان، گردهم آمده بودند و در پایان این نشست توافق کردند تا گفتگوها در این زمینه را، به صورت منظم ادامه دهند.

قرار است نشست بعدی این مذاکرات نیز، با حضور نماینده‌گان افغانستان، پاکستان، ایالات متحدۀ امریکا و چین، به تاریخ ۱۸ جنوری در کابل برگزار شود. گفته می‌شود پس از نشست دوم در کابل، گفت‌وگوهای رودررو میان حکومت افغانستان و طالبان مسلح آغاز خواهد شد.

هدف اصلی این مذاکرات چهارجانبه، آغاز گفت‌وگوهای مستقیم بین حکومت افغانستان و گروه طالبان است. سوال این است که آیا واقعا این نشست‌ها به آغاز گفت‌وگوهای رودررو میان حکومت افغانستان و طالبان خواهد انجامید؟

## پیشینۀ مذاکرات چهارجانبه

پس از روی کار آمدن حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی پالیسی نزدیک شدن به پاکستان را برای رسیدن به صلح در کشور روی دست گرفت. میانجیگری پاکستان در گفت‌وگوهای صلح میان حکومت افغانستان و طالبان در مدت یک سال گذشته، از مراحل زیر عبور کرده است:

**مذاکرات ارومچی:** پس از آنکه حکومت وحدت ملی به هدف حاضر کردن طالبان به میز مذاکرات صلح، امتیازاتی زیادی به پاکستان داد، پاکستان برای نشست نماینده‌گان حکومت افغانستان و گروه طالبان در شهر ارومچی چین زمینه‌سازی کرد که در آن، شماری از مقام‌های کم‌نفوذ طالبان نیز اشتراک کردند، ولی طالبان رسماً اشتراک خود را در آن نشست رد کردند.

**مذاکرات مری:** نشست دوم مذاکرات صلح به میانجیگری پاکستان در مری در نزدیک اسلام‌آباد برگزار شد که برای اولین بار نماینده‌گان رسمی طالبان در آن نشست شرکت داشتند. هرچند طالبان رسماً شرکت خود را در آن نشست تایید نکردند، ولی در اعلامیۀ شان که در مورد نشست مری منتشر شد، شرکت نماینده‌گان خود را نیز رد نکردند.[1] مدت اندکی بعد و با افشای مرگ ملا محمد عمر این مذاکرات متوقف گردید. پس از ناکام شدن تلاش‌های صلح با طالبان و وقوع چندین انفجار خونین در کابل، بار دیگر روابط دو کشور تنش‌آلود گشت.

**دیپلوماسی منطقوی:** پاکستان، پس از متوقف شدن پروسۀ صلح تحت فشار قرار گرفت. از همین جاست که لوی درستیز پاکستان، نخست وزیر و مشاور امنیت ملی این کشور ناگزیر شدند از تلاش‌های کشورش برای آغاز دوبارۀ گفتگوهای صلح سخن بگویند. همزمان با این، دیپلوماسی منطقوی برای آغاز پروسۀ صلح افغانستان نیز متحرک شد و نماینده‌گان ویژۀ ایالات متحدۀ امریکا، چین و ملل متحد برای افغانستان و پاکستان نیز در سفرهای خویش به پاکستان، بر آغاز دوبارۀ گفت‌گوهای صلح تاکید کردند.[2]

**تلاش پاکستان برای آغاز دوبارۀ مذاکرات:** پاکستان با استفاده از دیپلوماسی "زبان" تلاش بهبود روابط میان دو کشور و زمینه‌سازی برای آغاز دوبارۀ گفتگوهای صلح افغانستان کرد. سران احزاب پشتون پاکستان به تاریخ ۲۵ نوامبر

---

[1] برای معلومات بیشتر، تحلیل مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی را در اینجا بخوانید: http://csrskabul.com/pa/blog/%D8%B3%D9%88%D9%84%D9%87%D8%9B-%D8%A2%D9%8A%D8%A7-%D9%85%D8%AE%D8%A7%D9%85%D8%AE-%D8%AE%D8%A8%D8%B1%DB%90-%D9%BE%D9%8A%D9%84-/%D8%B4%D9%88%DB%90%D8%9F

[2] برای معلومات بیشتر، به شمارۀ ۱۴۲ تحلیل هفتۀ مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی مراجعه نمایید: http://csrskabul.com/pa/wp-content/uploads/2015/11/%D8%AA%D8%AD%D9%84%D9%8A%D9%84-%D9%87%D9%81%D8%AA%D9%87-142.pdf

۲۰۱۵ در سفری به کابل، پیام نوازشریف صدراعظم پاکستان برای دیدار با اشرف غنی در کنفرانس پاریس را نیز با خود آوردند.[3]

نوازشریف در حاشیهٔ کنفرانس پاریس با اشرف غنی دیدار کرد و او را به شرکت در کنفرانس قلب آسیا به اسلام‌آباد دعوت نمود. نشست قلب آسیا در اسلام‌آباد و شرکت اشرف غنی در این نشست، نمایانگر تحرک تازه در روابط میان افغانستان و پاکستان تلقی شد. مذاکرات چهارجانبه شامل کشورهای افغانستان، پاکستان، ایالات متحدهٔ امریکا و چین در حاشیهٔ همین کنفرانس، به هدف یافتن راه برای آغاز مذاکرات صلح افغانستان طراحی شد و هدف پاکستان از این طرح، جلب اعتماد حکومت افغانستان بود.

## آغاز مذاکرات چهارجانبه

این بار در مذاکرات صلح افغانستان، امریکا و چین به عنوان دو کشور قدرتمند که در تحولات منطقه نقش مهم دارند، در این مذاکرات حضور دارند و بدون شک می‌توانند در تشویق طرف‌های درگیر برای برداشتن گام‌های موثر، نقش اساسی داشته باشند.

یکی از اهداف حکومت افغانستان در این مذاکرات این است که تعهداتی که پاکستان در راستای صلح به افغانستان می‌دهد، از سوی یک کشور سوم (چین) تضمین شود. چین در این اواخر آماده‌گی خود را برای همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان ابراز کرده و با توجه به نفوذ و رابطه‌ای که با پاکستان و گروه طالبان دارد، توانسته است زمینهٔ دیدار هیأت‌های گفت‌وگو کننده را فراهم سازد.

پس از بهبود روابط کابل-اسلام‌آباد مذاکرات چهارجانبه برای صلح افغانستان آغاز شد و نخستین نشست آن با حضور نماینده‌گان چهار کشور در اسلام‌آباد برگزار گردید.

حکمت خلیل کرزی معین سیاسی وزارت امور خارجهٔ افغانستان، اعزاز احمد چوهدری معین وزارت خارجهٔ پاکستان، ریچارد اولسن نمایندهٔ ویژهٔ ایالات متحدهٔ امریکا برای افغانستان و پاکستان و دینگ شیجون نمایندهٔ ویژهٔ چین برای افغانستان، این نشست را رهبری کردند.

---

[3] برای معلومات بیشتر به شمارهٔ ۱۴۴ تحلیل هفته مراجعه نمایید: http://csrskabul.com/pa/wp-content/uploads/2015/12/%D8%AA%D8%AD%D9%84%D9%8A%D9%84-%D9%87%D9%81%D8%AA%D9%87-144.pdf

بنابر اعلامیه‌ای که در پایان این نشست منتشر شد، این مذاکرات چند روز بعد (۱۸ جنوری) در کابل پی گرفته خواهد شد. در این اعلامیه، بر ضرورت آغاز گفت‌وگوهای مستقیم بین حکومت افغانستان و گروه طالبان تأکید شده است.

این مذاکرات با داشتن سه مرحله، ظاهراً پروسهٔ طولانی به نظر می‌رسد. مرحلهٔ اول آن پلان‌گذاری قبل از آغاز گفتو گوها با طالبان است؛ مرحلهٔ دوم، گفت‌وگوهای رودررو با طالبان و مرحلهٔ سوم این پروسه، اقدامات عملی و تنفیذ نتایج گفت‌وگوها می‌باشد.

## نتیجهٔ نخستین نشست چهارجانبه

اینکه نشست اسلام‌آباد به جز توافق بر سر برگزاری منظم این گونه نشست‌ها و تعیین تاریخ دور بعدی مذاکرات، نتیجهٔ مشخص دیگری نداشته است، موجب غلبهٔ نگرانی‌های بعدی بر امیدهای اولیه نسبت به این روند شده است.

پس از اولین نشست چهارجانبه دو نوع اختلافات رونما گردید که تااکنون در مرحلهٔ ابتدایی قرار دارد. اول، اختلافات در مورد کسانی که در پروسهٔ صلح اشتراک نخواهند کرد و دوم نیز اختلافات و تناقضات در داخل حکومت افغانستان است.

**اختلاف‌نظرهای افغانستان-پاکستان:** تغییر در موقف‌ها و اظهارات مقامات افغانستان و پاکستان نشانگر عدم توافق و هماهنگی میان آن‌هاست. حکومت افغانستان می‌گوید تلاش دارد کسانی را که حاضر به شرکت در مذاکرات صلح هستند، از کسانی که حاضر به پیوستن به روند صلح نیستند، تفکیک کند. ولی پاکستان، چنین اظهارات را مانعی برای صلح می‌داند و بر ضرورت "ایجاد اعتماد" برای پیوستن طالبان به روند گفت‌وگوهای صلح تاکید کرده است.

حکومت افغانستان می‌گوید کسانی که به گفتگوهای صلح حاضر نمی‌شوند، سرکوب خواهند شد. ولی پاکستان برای اعتمادسازی میان طالبان و حکومت افغانستان، چنین اظهارات را مانع آغاز مذاکرات می‌داند. با توجه به اینکه نخستین نشست این مذاکرات با اظهارات ضد و نقیض آغاز شد، ناامیدی‌ها نسبت به نتائج نشست‌های بعدی بیشتر شده است.

**اختلافات داخلی حکومت وحدت ملی:** پیش از برگزاری نشست چهارجانبه در اسلام‌آباد سخنگوی ریاست اجرائیه گفته بود که پاکستان لیست کسانی را که در گفت‌وگوهای صلح اشتراک خواهند کرد و کسانی که اشتراک نخواهند کرد و مایل به اشتراک در گفتگوهای صلح نیستند، به جانب افغانستان ارائه خواهد کرد. در حالیکه چنین لیستی از سوی پاکستان به حکومت افغانستان سپرده نشد و حکمت خلیل کرزی نیز پس از برگشت از اسلام‌آباد در کنفرانس مطبوعاتی خود گفت که آنان هیچ توقع چنین لیستی را نداشتند.

## واکنش طالبان

پیش از این شایعاتی به گوش می‌رسید که احتمال می‌رود پاکستان این بار نیز افرادی چون ملا حسن رحمانی، ملاعبدالرزاق و ملاجلیل را که در صفوف جنگجویان طالبان نفوذی ندارند، در ادامهٔ مذاکرات چهارجانبه، به گفت‌وگوها حاضر سازد.

روزنامهٔ اکسپرس تریبیون پاکستان که بیش‌تر خبرهای طالبان را به نشر می‌رساند در گزارشی گفته است که ملا عبدالرزاق و ملا حسن رحمانی که پس از اعلام خبر مرگ ملا محمد عمر حاضر به بیعت از ملا اختر محمد منصور نشده‌اند، از شورای رهبری این گروه اخراج شده‌اند. این دو تن بخشی از هیئتی بوده‌اند که با هیئت شورای عالی صلح افغانستان در شهر ارومچی چین دیدار کردند. طالبان در شورای رهبری‌شان سه فرد غیر پشتون را از اقوام دیگر افغانستان نیز شامل کرده‌اند. ملا عبدالرحمان از قوم ازبک، شیخ شریف از قوم تاجیک و یک تن از ملیت ترکمن افغانستان به تازه‌گی برای نخستین‌بار در شورای رهبری طالبان گماشته شده‌اند. طالبان با اخراج افراد مذکور از شورای رهبری شان، نشان دادند که چنین افراد نماینده‌گی از این گروه را نمی‌کنند.

باآنکه خبرگزاری رویترز[4] از قول معاون سراج الدین حقانی (معاون ملا اختر محمد منصور) گفته است که گروه طالبان به رهبری ملا اختر محمد منصور در مذاکرات صلح شرکت خواهند کرد و حتی گفته است که سراج الدین حقانی شخصاً تمایل دارد تا در این مذاکرات سهم داشته باشد، اما سخنگویان رسمی طالبان رسماً در این مورد چیزی نگفته است.

هرچند طالبان به گونهٔ رسمی اعلامیه‌ای در مورد این مذاکرات صادر نکرده‌اند و احتمال اشتراک نماینده‌گان طالبان در این مذاکرات نیز رد نشده است، اما در تبصره‌های سیاسی در وب‌سایت رسمی طالبان چنان می‌نماید که حکومت افغانستان چون پالیسی جنگ برای صلح را در پیش گرفته و اراده‌ای برای صلح ندارد، به همین دلیل چنین گفت‌وگوها نتیجه‌ای نخواهد داشت.[5] از این‌رو به نظر می‌رسد که جناح اصلی طالبان در این مذاکرات اشتراک نخواهند کرد.

از جانب دیگر، طالبان در این اواخر به دو گروه تقسیم شده‌اند. اگر کدام گروهی از این دو گروه، آماده‌گی برای اشتراک در این مذاکرات نشان دهد، گروه دیگر آن هرگز اشتراک نخواهد کرد.

[4] معلومات بیشتر در این مورد را در اینجا بخوانید: http://da.azadiradio.org/content/article/27474922.html

[5] برای تبصرهٔ طالبان در مورد نشست چهارجانبه به وب سایت طالبان مراجعه نمایید: http://alemara1.org/?p=38737

## آیندۀ مذاکرات صلح

موفقیت مذاکرات چهارجانبه صلح افغانستان، بیشتر با دو مسئله ربط دارد:

**اول:** اگر طالبان به مذاکرات صلح آماده نشود، چه برخوردی با آن‌ها صورت خواهد گرفت؟

تاهنوز اشتراک کننده‌گان این مذاکرات به این نتیجه نرسیده‌اند که اگر طالبان به گفت‌وگوهای مستقیم حاضر نشوند، چه برخوردی با آنان صورت خواهد گرفت؟ حکومت افغانستان به راه زور و جنگ پافشاری می‌کند. چنانچه سرپرست وزارت دفاع افغانستان می‌گوید آن عده از گروه‌های مخالف مسلح دولت افغانستان که آشتی‌پذیر نیستند و به پروسه صلح نمی‌پیوندند، از سوی نیروهای امنیتی سرکوب خواهند شد و حکمت خلیل کرزی نیز پس از برگشت از اسلام‌آباد گفت که حکومت با کسانی که حاضر به پیوستن به روند صلح نشوند، بر اساس یک تفاهم مشتر ک با پاکستان، آمریکا و چین، با آنان برخورد خواهد کرد. ولی پاکستان نظر متفاوت با این نظریه دارد و تاهنوز میان افغانستان و پاکستان اختلاف‌نظر وجود دارد.

سرتاج عزیز مشاور ارشد صدراعظم پاکستان هنگام افتتاح نشست اسلام‌آباد با تأکید روی ایجاد فضای اعتماد گفت که پیش شرط‌ها باید برداشته شود و این که تهدید حمله بالای گروه‌های که حاضر به گفتگو نیستند، نمی‌تواند گفتگوها را بالای همه گروه‌ها تحمیل کند.

**دوم:** در مذاکرات صلح کدام گروه طالبان شرکت خواهد کرد؟

اگر حکومت پاکستان توانست در نتیجۀ فشارها بر طالبان، اعضای دفتر سیاسی طالبان در قطر، یا اعضای شورای رهبری طالبان تحت رهبری ملا اختر محمد منصور و یا هم اعضای شبکۀ حقانی را به گفت‌وگوها حاضر کرد، باعث موفق شدن پروسۀ صلح خواهد شد و نتیجۀ این مذاکرات امیدوارکننده خواهد بود. اما اگر کسانی دیگری در این گفت‌وگوها به نماینده‌گی از طالبان شرکت کردند، نتیجۀ آن مانند شورای عالی صلح بدون دست‌آورد خواهد بود.

اگر به مواقف طالبان در این اواخر دیده شود، به نظر می‌رسد که طالبان با گفت‌وگوهای صلح تحت فشار پاکستان حساس اند و به همین دلیل کسانی را که پیش از این به نماینده‌گی از طالبان در چنین مذاکرات شرکت کرده بودند، از شورای رهبری خود اخراج کردند.

از طرف دیگر، گروه طالبان در ماه‌های گذشته به دو شاخه تقسیم شده است و دو دستگی میان این گروه، روی گفت‌وگوهای آینده سایه افگنده است که برگزاری مذاکرات واقعی صلح را دشوار می‌سازد. بنابراین، اگر حکومت افغانستان با کسانی به نماینده‌گی از طالبان روبه رو شود که با جناح اصلی طالبان وابستگی نداشته باشند، چنین مذاکرات نیز هیچ دست‌آوردی برای افغانستان نخواهد داشت.

## نتیجه‌گیری

تلاش مجدد برای از سرگیری مذاکرات صلح زمانی روی دست گرفته می‌شود که خشونت‌ها در افغانستان رو به افزایش است و سال گذشته بعد از خروج بخش زیاد نیروهای خارجی در اواخر سال ۲۰۱۴ میلادی، یکی از خونین‌ترین سال‌ها در افغانستان بود.

در آستانۀ خروج نیروهای اتحاد شوروی از افغانستان نیز ، کنفرانس چهارجانبه در ژنو به منظور تامین صلح در افغانستان، میان کشورهای امریکا، پاکستان، حکومت کابل و اتحاد شوری برگزار گردید و آیندۀ شومی را برای افغانستان رقم زد. در آن کنفرانس چهارجانبه، هیچ نماینده‌ای از مجاهدین شرکت نداشت و در حقیقت پاکستان از آن‌ها نمایندگی می‌کرد. اکنون نیز، قرار است این چهار کشور در غیاب طالبان در مورد برنامۀ صلح حکومت افغانستان با مخالفین مسلح تصمیم بگیرند و راه‌کاری را برای صلح در افغانستان تصویب نمایند.

هرچند یکی از اهداف این مذاکرات چهارجانبه، آغاز گفت‌وگوهای مستقیم بین حکومت افغانستان و گروه طالبان است و مذاکرات چهارجانبۀ کنونی با مذاکرات ژنو با این تفاوت آغاز شده است که احتمال کمتر گفت‌وگوهای رودرروی حکومت افغانستان با طالبان پس از دو و یا سه نشست نیز وجود دارد، اما اگر چنین نشد و به این مذاکرات در غیاب طالبان ادامه داده شد، در حقیقت نتیجۀ این نشست‌ها مانند مذاکرات ژنو خواهد بود و حکومت افغانستان هیچ دست‌آوردی از این مذاکرات نخواهد داشت، بلکه قضیۀ صلح و جنگ بیش از پیش پچیده خواهد شد.

در کل، این مذاکرات امیدواری‌هایی با خود خواهد داشت، اما تا زمانی که ارادۀ واقعی برای صلح در تمامی طرف‌های درگیر ایجاد نشود، این تلاش‌ها به نتیجه‌ای نخواهد رسید و جز فرصت‌کشی چیز دیگری نخواهد بود.

# د ایران-سعودي سړه جګړه؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې




د ۲۰۱٦ کال له پیلېدو وړاندې داسې اټکل کېده، چې په دې کال کې به د تېرو درېو کلونو په پرتله د سعودي-ایران اړیکې د عادي کېدو په لور ولاړې شي او په تېره بیا د سوریې د بحران په تړاو به هم یوې موافقې ته سره ورسېږي؛ ځکه د سوریې د بحران په تړاو دوی چمتو شوي وو، چې له یو بل سره د خبرو اترو مېز ته کښېني، مګر د ۲۰۱٦ کال لومړۍ اوونۍ دغه هیلې مړاوې کړې.

د ۲۰۱٦ کال د جنورۍ په دویمه نېټه، د سعودي عربستان حکومت د القاعدې شبکې د غړو، تونلارو سُنیانو او د شیعه عالم شېخ نمري په شمول ۴۷ تنه د "ترهګرۍ" په تور اعدام کړل. د سعودي د دغې کړنې په غبرګون کې، په ایران کې د سعودي عربستان سفارت وسوځول شو، چې له کبله یې ریاض له تهران سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې پرې کړې. د سعودي عربستان نورو متحدینو هم د ریاض پر پله پل کېښود او له ایران سره یې اړیکې پرې کړې، چې له کبله یې دغه بحران نور هم د پراخېدلو په لور ولاړ.

د منځنۍ ختیځ د همدغه بحران په جریان کې، د افغانستان اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله ایران ته په یوه درې ورځنۍ سفر ولاړ او وروسته افغان حکومت د دغه کړکیچ په تړاو یوه اعلامیه هم خپره کړه، چې د کابل دریځ پکې تر ډېره بې‌پرې او پر ناپېیلتوب متکي وو. دا چې په منځنۍ ختیځ کې روان بحران او سړه جګړه په کوم لور روانه ده، پر سیمه او افغانستان به یې اغېزې څه وي او په وروستیو کې ایران ته د اجرائیه رییس سفر به پر دواړخیزو اړیکو څه اغېزې وښندي، دلته پرې شننه کوو.

## په منځني ختیځ کې سړه جګړه

د سړې جګړې په وروستیو کلونو کې چې کله په ایران کې د امریکا د اتحادي رضا شاه پهلوي پرځای اسلامي انقلاب ټینګ شو، نو په سیمه کې له ایډیالوژیکي رقابت سره مذهبي رقابت هم رامنځته شو. له همدې ځایه ایران ډېر ژر له عراق سره په یوه اوږده جګړه کې ښکېل شو.

د ایران اسلامي انقلاب په سیمه کې د ځواک انډول اغېزمن کړ او سیمه یکې پر دوو سیمه‌ییزو بلاکونو ووېشل شوه، چې د ایران متحدین یکې د لبنان حزب الله او د سوریې حافظ الاسد وو، د سعودي عربستان د متحدینو لېست بیا د ایران له متحدینو څخه لوی و، چې مصر، خلیجي هېوادونه او نور عربي هېوادونه یکې راتلل.

سعودي عربستان، چې د نړیوالې سړې جګړې پر مهال د امریکا ملاتړی و، د امریکا له تجربو زده کړل او هڅه یې وکړه، چې د "ترومن دکترین" په څېر د ایران پرخلاف خپله ځانګړې نظریه هم راوړاندې کړي او په مرسته یې ایران په خپل ګاونډ کې راحصار او تابع کړي. سعودي عربستان په همدې موخه د خپل ستراتېژیک ملګري پاکستان او له هغه ځایه بیا د هغو افغان مجاهدینو لوری ونیو، چې د تحریک بریالیتوب یې هغه مهال د سعودي له مرستو سره تړلی و.

ځکه نو هغه مهال دغې سړې جګړې د افغانستان پر کورنۍ جګړه اغېز وکړ او وروسته بیا د افغانستان د سیاست ډګر ته طالبان راځرګند شول، چې له پیله یې د ایران مخالفت وکړ؛ خو بالعکس سعودي بیا له همدې امله طالبان په رسمیت وپېژندل. په دې توګه د سړې جګړې دا لوبه افغانستان ته هم راولېږدول شوه او د افغانستان پر حالاتو یې ژور اغېز وکړ.

## منځنی ختیځ؛ د بحرانونو ټاټوبی

که تېرې یوې پېړۍ ته نظر کړو، نو منځنی ختیځ د بحرانونو ځای دی. د تېرې پېړۍ په پیل کې عثماني خلافت مات شو، پرځای یې نوي حکومتونه رامنځته شول، په دویمه نړیواله جګړه کې هم منځنی ختیځ د لومړۍ نړیوالې جګړې په څېر د جګړې یوه برخه وګرځېدله.

د سړې جګړې د پیل په ورځو کې اسرائیل هېواد رامنځته شو او په ۱۹۴۸، ۱۹۵۶ او ۱۹۷۳ کلونو کې یې بیا له عربي نړۍ سره درې لویې جګړې هم وکړې. د ۱۹۷۳ کال عرب-اسراییل جګړه کې د عربانو لهخوا د تېلو

نرخونه لوړ شول او پای یې په نړۍ کې انفلاسیون راووست، چې اوس هم په اقتصادي تاریخ کې د 1973 economic crises په نامه سره یادیږي. د دې ترڅنګ په فلسطین کې د اسرائیلو وحشیانه کړنې هم ځینې مهال بحرانونو ته لاره خلاصوي.

د سړې جګړې په پای کې په منځنۍ ختیځ کې د خلیج جګړه پیل شوه، وروسته په ۲۰۰۳ کال کې امریکا د کیمیاوي او بیالوژیکي وسلو په تور پر عراق یرغل وکړ او وروسته یې بیا په عراق کې په غیرمستقیم ډول د داعش راتګ ته هم لاره پرانیستله.

په روانه لسیزه کې په منځنۍ ختیځ کې د عربي پسرلي څپه راوالوتله، چې له تونس څخه په پیل کېدو ډېر ژر نورو عربي سیمو ته ورسېدله. دغه پسرلي په تونس، لیبیا او مصر کې دکتاتور حکومتونه راونړول خو په لیبیا کې ورپسې متصل کورنۍ جګړه پیل شوه او په مصر کې د یوه کال دننه د مصر لومړنی ولسواک حکومت د پوځ او یو شمېر سیمه‌ییزو هېوادونو له‌خوا ونړول شو.

په ۲۰۱۱ کال کې په سعودي کې هم د عربي پسرلي تر عنوان لاندې په سویل کې یو شمېر شیعه‌ګانو پاڅون وکړ، چې شېخ نېمري هم پکې شامل و. سعودي د شېخ نېمري په پاڅون کې د ایرانیانو لاس وګاڼه او ډېر ژر د عربي پاڅونونو له کبله ووېرېد او دا یې د بادشاهۍ نظام ته ګواښ وباله. له همدې کبله یې په مصر کې د مُرسي حکومت په راپرځولو کې هم مهم رول ولوباوه.

که څه هم د عربي پسرلي له پیل راهیسې په منځنۍ ختیځ کې د ایران-سعودي اړیکې ډېرې ښې نه وې؛ خو دغه اړیکې بیا دومره کړکیچنې هم نه وې، لکه د ۲۰۱٦ کال په پیل کې چې دي.

## د سعودي-ایران اړیکې ولې کړکېچنې شوې؟

په مجموع کې د ۱۹۷۹ کال راهیسې د سعودي-ایران اړیکې کړکیچنې پاتې شوې. د سعودي-ایران د اختلافاتو غټې ټکي سیمه‌ییز رقابتونه او د سُني او شیعه مذهبي توپیر دی. دواړو د یو بل پرضد د یو بل د مخالفینو ملاتړ کړی دی.

اوسمهال د سعودي-ایران اړیکې تر ډېره د همدې سیمه‌ییز رقابت او سُني-شیعه پر مسئلې راڅرخي. د ایران ډېرۍ ګټې د بشار الاسد تر حاکمیت لاندې سوریې او د یمن له حوثیانو سره تړل شوې دي. په بل اړخ کې

سعودي د بشار الاسد له مخالفینو سره پراخې مرستې کوي او همدا راز د یمن پر حوثیانو یې هم د دې اندېښنې له کبله بمباری وکړې، چې له یوې خوا د ایران د حصار تر کړۍ لاندې رانشي او له بلې خوا د سعودي په سویل کې پاڅون او اړ و دوړ ته لاره هواره نه شي.

د سعودي-ایران اختلافات د تېر کال د حج د پېښې له کبله هم خرابې شوې او ایراني لوړ پوړو چارواکو یې په تړاو توندې نیوکې وکړې.

د ۲۰۱٦ کال د جنورۍ په دویمه نېټه سعودي ۴۷ تنه، چې ډېری یې د القاعده شبکې غړي او سُنیان وو او لږه برخه یې شیعه‌گان چې پکې مشهور شیعه عالم نېمري هم و، په ۱۲ مختلفو ځایونو کې په دار وځړول. په ایران کې په همدې ورځ لاریون کوونکو لومړی په مشهد کې د سعودي قونسلگري وسوځوله او بیا یې په تهران کې د سعودي سفارت ته اور واچاوه.

سعودي د خپل سفارت د سوځېدو په غبرگون کې له ایران سره خپلې اړیکې پرې کړې، په سعودي کې یې د ایران سفیر ته د وتلو امر وکړ، له ایران سره یې سوداگریزې او هوایي اړیکې پرې کړې او په دې توگه دا د عراق-ایران له اوږدې جگړې وروسته لومړی ځل دی، چې د سعودي او ایران اړیکې پکې دومره کړکېچنې‌بږي.

## د سعودي-ایران کړکیچ کې د کابل دریځ

د یمن له بحران څخه وروسته، افغانستان د سعودي-ایران کړکیچ په تړاو بې‌پرې او ناپېیلتوب ښه دریځ نیولی او هم یې د دوی د اړیکو پرې کېدل د سیمې او اسلامي نړۍ په تاوان بللي دی، ځکه د افغانستان داخلي او بهرنۍ گټې دا نه ایجابوي، چې د دوی په خپل‌منځي شخړو کې طرف واقع شي.

په ایران کې په ملیونونو افغان کډوال اوسېږي، د چابهار بندر به یې زموږ ترانزیټ تر ډېره له سیاسي چلند څخه ازاد کړي او پر یوه هېواد به یې هم متکي نه کړي. همدا راز په سعودي عربستان کې هم زر گونه افغان کارگر په کارونو بوخت دي او هر کال افغانستان ته ډېری پیسې هم رالېږي.

## پر سيمه او افغانستان د سعودي-ایران د کړکیچ اغېزې

- **منځنۍ ختيځ په دوو بلاکونو وېشل شو:** که څه هم د سعودي-ایران له کړکېچنو ډيپلوماتيکو اړيکو څخه وړاندې هم سيمه د سوريې او يمن له کبله پر دوو بلاکونو وېشل شوې وه او هر يو بلاک نړيوال ملاتړي هم درلودل. خو د سعودي-ایران وروستيو ډيپلوماتيکي اړيکو دغه اختلافات نور هم ژور کړل. بحرين، کويټ، سوډان او سومالیې د سعودي پر ملاتړ له ایران‌سره خپلې ديپلوماتيکي اړيکې پرې کړې او عربي متحده اماراتو بيا له ایران سره د خپلو سوداګريزو اړيکو له کبله ديپلوماتيکي اړيکې پرې نه کړې؛ خو ټيټې کچې ته يې ورسولې.
- **د سوريې بحران به نور هم اوږد شي:** د سعودي-ایران له اوسنيو اختلافاتو او کړکيچنو اړيکو څخه وړاندې دواړه تقريباً په دې تړاو توافق ته رسېدلي وو، چې د سوريې په تړاو به د خبرو اترو مېز ته کېني. په سعودي کې هم د بشار الاسد وسله‌والو مخالفينو په دې همغږي ښودلې وه، چې د سوريې بحران به د خبرو اترو له لارې هواروي؛ خو د سعودي-ایران اوسنيو اړيکو ته په کتلو سره داسې برېښي، چې د دغو اړيکو لومړنۍ قرباني به د سوريې بحران وي. همدا لامل دی، چې سوريې ته د ملګرو ملتونو استازی غواړي، سعودي او ایران ته سفرونه وکړي، څو د دوی اختلافات پر سوريې سيوری ونه غوړوي.
- **د تېلو پر نرخونو يې اغېزه:** منځنۍ ختيځ د تېلو تر ټولو زياته زېرمه لرونکې سيمه ده او په ورځني ډول د نړۍ تر ټولو زيات تېل توليدوي. ایران او سعودي د اوپېک سازمان بنسټ اېښودونکي دي او د دواړو هېوادونو رقابت او په مجموع کې په منځني ختيځ کې کړکيچ بيا د تېلو پر نرخونو اغېزې کوي. دغه اغېزې دوه ډوله وي:

**لومړی ډول؛ د تېلو نرخونه لوړېږي:** په منځني ختيځ کې کړکيچونه يا جګړې د تېلو پر عرضې اغېز کوي او له کبله يې د تېلو نرخونه لوړېږي. د ۱۹۷۳ کال عرب-اسراييل جګړې پرمهال هم د تېلو نرخونه لوړ شوي وو او وروسته هم په ډېرو هغو کړکيچونو کې، چې د سعودي-ایران اختلافاتو تر سيوري لاندې به نه وو، له امله به يې د تېلو نرخونه لوړېدل.

**دويم ډول؛ د تېلو نرخونه ټيټېږي:** ډېری مهال چې په منځني ختيځ کې د سعودي-ایران اړيکې کړکيچنې شي، نو سعودي، چې د تيلو پراخې زيرمې لري، له خپلو تيلو څخه د وسلې په توګه کار اخلي. دوی په ورځني ډول د تېلو عرضه زياتوي، چې له کبله يې په نړۍ کې د تېلو پيداوار زياتېږي او

په پای کې يې نرخونه رالوېږي. سعودي له دې لارې غواړي، چې ايران ته په اقتصادي توګه درانه تاوانونه واړوي.

له ۲۰۰۴ کال راهیسې دا لومړی ځل دی، چې د يو بېرل تېلو نرخ دومره ټيټ شوی، اوس د يو بېرل تېلو نرخ ۳۴.٦۵ امريکايي ډالرو ته رسيدلی دی.[6]

- **د فرقه‌يي جګړې تودېدل:** په هغو هېوادونو کې چې سُني او شيعه وګړي پکې مېشت وي، هلته د ايران-سعودي د ژورو اختلافاتو سیوری پر دغو هېوادونو هم لوېږي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[6] See online: http://www.telegraph.co.uk/finance/oilprices/12084237/saudi-arabia-iran-tensions-brent-crude-oil-hits-11-year-low.html